# د Clarkston عالي ښوونځي زده کوونکي لومړی خپور شوی کتاب 'Unspoken Words' دی؛ اوس په Amazon کې شتون لري

کله چې د Clarkston عالي ښوونځي د وروستي کال زده کوونکي Kira Farris څو کاله وړاندې د يو هلک له امله د يو ستونزمن حالت سره مخ وه نو هغې پريکړه وکړه چې خپله غوسه او نور احساسات د شعرونو په ليکلو بدل کړي.

[The Unspoken Words](#) اته ځيرکي درلودونکی د شعرونو 101 مخه کتاب دی چې د نااميدی، کار او شخصيت موندني پر موضوع ګانو خبرې کوي. دا د 2023 کال د دسمبر په 26 مه خپور شوی و.

Kira وويل چې "دا شعرونه زما د کم عمرۍ کيسه بيانوي او دا چې زه څنګه د يو سخت حالت سره مخ وم او يو احمق هلک ما له خپل خوی څخه وباسي چيرې چې زه د خپل ملاتړ سيستم څخه جلا شوې وم." "ښه خبره دا ده چې زه وتوانيدم چې دا په پام کې ونيسم او خپل ځان را پورته کړم. زما د مور، ديني مور او د کورنۍ او ملګرو په مرسته زه توانيدلې وم چې بيرته له دې ټولو څخه خپل حالت ته راوګرځم."

Clarkston عالي ښوونځي د فبروري په 29 مه د ښوونځي د رسنيو په مرکز کې د کتاب لاسليک کولو او د ليدنې او خبرو کولو غونډه جوړه کړه ترڅو د Kira لاسته راوړنې ولمانځي. هغې حتی د خپل کتاب په اړه د پوښتنو او ځوابونو يوه ناسته ترسره کړه او خپلې هڅونې او سفر يې د يوې نوې ليکوالې په توګه له ګډون والو سره شريک کړ. هغې د محصلينو، تدريسي هيئات او کارمندانو لپاره د خپل کتاب نسخې هم لاسليک کړې. Kira د يوې چاپ شوې اثر د ليکوالې جوړيدو په حيث خپل د خوښۍ احساس او هوساينه څرګنده کړه.

Kira وويل چې "ما په پيل کې د دې د خپرولو اراده نه درلوده. ما په حقيقت کې دا کتاب د دې لپاره ليکلی و چې خپل فکرونه د کاغذي ليک په بڼه ووينم او ما غوښتل چې د خپل ژوند هاغه فصل پای ته ورسوم." "کله چې ما کتاب خپور کړ نو ما فکر کاوه چې ښايي زما کيسه له يو بل چا سره مرسته وکړي."

Kira له دريو کلونو راهيسې ليکل کوي او د *The Unspoken Words* کتاب ليکلو يې شاوخوا يو کال وخت واخيست.هغې خپل کتاب پخپله د Amazon KDP له لارې خپور کړ کوم چې وړيا کتابونه خپروي.هغې تر اوسه 32 کتابونه پلورلې دي او دا شمير لا هم په زياتيدو دی.

هغې وويل چې "دا ماته ښه احساس راکوي چې خلک په رښتيا زما کتاب لولي ځکه چې له دې لارې زه پوهيږم چې زما کيسه اوريدل شوې ده." "زه د خپل ښوونځي په ځانګړې توګه د آغلې Harden څخه ډيره مننه کوم ځکه چې ما اراده نه درلوده چې ښوونځي ته د خپل کتاب په اړه ووايم. کله چې آغلې Harden پوهه شوه نو هغې وويل چې موږ بايد د ګډون کولو او برخه اخيستلو لپاره د کتاب د لاسليک مراسم ونيسو.

آغلې Tracie Harden چې د Clarkston عالي ښوونځي په کتابتون کې د رسنيو متخصصه او هم د چاپ شوو آثارو ليکواله ده د Kira د سترې لاسته راوړنې لپاره يې خپل وياړ څرګند کړ او غوښتل يې چې دا ولمانځي.

آغلې Harden وويل چې "که څه هم هغه خاکساره ده خو دا يوه لويه خبره ده." "هغې خپل اثر د خپلو شخصي وسايلو په کارولو خپور کړ او دومره زړوره او ميړنۍ وه چې خپلې خبرې يې په کتابي بڼه چاپ او له نورو سره يې شريکې کړې."

Kira اراده لري چې په راتلونکي کې نور کتابونه وليکي. خو اوس مهال هغه خپلې زده کړې ته ژمنه ده. هغه به د عدلي عکس اخيستونکې مسلکي جوړيدو په هدف د عالي عدلي ساينس موضوع تعقيبولو لپاره د Savannah ايالت پوهنتون کې زده ګړه ترسره کړي. Kira وايي چې د هغې د کتاب ليکلو هدف يو ارزښتناک درس وړاندې کول دي.

PASHTO

Kira وویل چې "زه هیله لرم چې هرڅوک به خپل اهمیت پیژندل په یاد ولري." "دا ځکه چې د یو چا ارزښت باید هیڅکله د خپل ځان پرته د بل چا لخوا اندازه نشي."

د کتاب د لاسلیک مراسمو د عکسونو لیدو لپاره دلته کلیک وکړئ.

XXX